# د تصوف ځیني اصطلاحاتو شننه

**پنځمه برخه :** **څېړونکی: پوهنوال الکوزی تایب**

### ۱۳.مرید او مراد

ددغو اصطلاحاتو مصدر اراده ده مرید هغه څوک دی، چې د الله(ج) مینه ورباندې غالبه شي او دهغه پاک ذات په عبادت سره له نورهرشي څخه مخ واړوي او د الله(ج) د حاصلولو اراده وکړي.

الله(ج) فرمايي:

ژباړه:- رښتیا خبره ده هر هغه چاچي وویل زموږ پروردګار خدای(ج) او بیا پخپله په همدې خبره کلک ولاړ پاتې شول هغو ته ملایکې راکوزېږي او ورته وایي، چې مه وېرېږئ او خفه مه اوسئ خوښ اوسئ له هغه زیري څخه چې د وعده شوی جنت په اړه دی.

او بل ځای فرمايي:

هغودې چې وویل زموږ پروردګار خدای(ج) ده او بیا په همدې خبره کلک پاتې شول هغوی لره هیڅ ویره نشته او نه غمجن وي، له دې څخه موخه هماغه توبه کونکی دی، چې حق تعالی ته ګران وي او خپل ځان ته یې وربولي.

مراد ، ټول انبیاً را اخلي ابراهیم بن ادهم د تصوف له نظره مراد ددې روایت کیږي، چې ابراهیم ادهم پاچاؤ، د بوخیتا لپاره ښکارته وتلی ؤ، ده ته د حجاب له شاه دوه ځلې غږ وشو چې (نه دې کار ته پیدا یې او نه ددې کار امر درته شوی) ابراهیم ادهم د پاچاهۍ جامې وکښلې، هغه یې هغه شپون ته ورکړې، چې ور سره ؤ او د شپون جامې یې خپله واغوستلې او خپل ژوند یې په شام او مدینه کې د یوه صوفي عابد په توګه تېر کړ.

### ۱۴.خلــيفه:

هغه څه چې دلته بیان شول یو څه ښه او د ذکرکولو وړدي، دادي، چې خلیفه د طریقت د اهل عرف کې هغه څوک دی، چې له شیخ څخه خلافت کوي او د ځینو وظیفو په ادا کولو کې مرشد له هغه څخه استازيتوب کوي، چې دا په سالکانو کې څو ډوله وي.

لومړنی ډول: دا هغه څوک دی، چې د طالبینو په تعلیم کې، د طریقت آداب ذکر او فکر یوازیتوب په عبادت کلکوالي، د سنتو او کتاب پیروي د محرماتو پرېښودل او د واجباتو او مستحبو ادا کول او نورو کې له مرشد څخه استازيتوب کوي.

منځنـی ډول:

دا هغه څوک دی، چې دهغه صدري لطایف، لکه زړه، روح ، سر او اخفي د ذکر د دوام له امله روښانه شوي اوله مرشد څخه په اجازه سره نیابت کوي په دې سبب، چې خپل زړه د مرید زړه ته د مرشد د روحانیت په مرسته متوجې کوي تر هغو ، چې د مرید په زړه باندې رڼا غورځوي اوله هغه څخه ټولې نا پاکۍ پاکه وي او زړونه د حقیقت په رڼا باندې روښانه کوي تر څو ، چې په غرا محمدي شریعت باندې استوار او د نفس له اطاعت څخه وژغورل شي له شیطان څخه لرې شي او د خدای (ج) له مخلصو بندګانو څخه وشمېرل شي.

دریم ډول یې اعدا دي: دا هغه څوک دي، چې د رڼا په خپرولو کې د حضور او غیابت په حالت کې له مرشد څخه نمایندګي کوي او داسې وي، چې که کله د بعضي غایبو مریدانو په زړونو د رڼا د خپرولو اراده وکړي خدای(ج) ورته په دې کار کې ځواک ورکوي او په دې برخه کې مرشد ته اوله هغه څخه مرید ته د مکاشفاتو او روحي تلقیاتو وس او توان ورپه برخه کېږي هغه ته پدې حالت کې داسې استقامت ور په برخه کېږي چې په ټوله معنی د صالحانو او پیروي کونکو په ډله کې دوی ته اشاره کړې ده ددغې درجې خاوندان د مرشد شیخ په امر د مریدانو روزنه کولای شي البته د شیخ پر ژوند نه، دهغه له مړیني وروسته.

## پایله:

د دې اصطلاحاتو او نومونو تر راټولولو او تشریح وروسته یو شمېر پایلو ته ورسېدم ، په لنډ ډول یې یادوم:

د تصوفي اصطلاحاتو استعمال او مفهوم د عادي اصطلاحاتو سره توپیر لري؛

صوفیان اصطلاحات او نوموني د خپله آنده تشریح کوي؛ خو لیکوالان ئې بیا له خپله آنده چې یو له بله سره توپیر لري؛

تصوف په بېلابېلو هیوادونو کې که څه هم چې یو او بل ته ئې استعمال نیژدې دئ؛ خو لکه څنګه چې د لیکوالو او صوفیانو له خوا ئې په معنی او مفهوم او هم ئې په استعمال کې توپیر لیدل کېږي، د صوفیانو له هغو سره، همدا ډول د هیوادونو ترمنځ هم په معنی، مفهوم، استعمال کې توپیر لیدل کېږي.

### ماخذونه:


۱: حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۴ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی او دویم ټوک. کال پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۲: خپل شعشعي، محمد هارون. (۱۳۹۴) دعلي محمد مخلص د دیوان اوډنه، لغوي زېرمه، زیاتوني او مقابله. کابل: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت.

۳: ځلمی، محمد ولي. (۱۳۷۵ه ل). د کندهار او کابل تاریخي مسجدونه. صحاب نشراتي مؤسسه_کندهار.

۴: د افغانستان له پاره د ټولیزو رسنیو مرکز، میدیوتیک. (۱۳۸۳) پښتو – پښتو تشریحي قاموس، دویم چاپ، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

۵: زاهد مشواني، عبدالقیوم. (۱۳۹۱ه ل) پښتو _ پښتو سیند. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

۶: عمید ، حسن. (۱۳۸۸) فرهنګ فارسي عمید. تهران: انتشارات فرهنګ نما.

۷: نقشبندي، شیخ امین علاو الدین. د تصوف حقیقت او د نقشبندیې طریقې یو بحث. ۱۳۸۹. ترجمه: دودیال، محمد بشیر. ننګرهار: میوند خپرندویه ټولنه.


پای

# په پښتني ټولنه کې د ښځو پر وړاندې محدودیت تر کله ؟

په پښتني ټولنه کې تر هر څه زیات کوم حقوق او صلاحیتونه چې د اسلام مقدس دین ښځو ته ورکړي ورنه اخستیل کېږي او خپل حقونو نه محرومیږي.

حال دا چې د اسلام له نظره ښځه د تعلیم حق لري، خو په پښتني ټولنه کې د ښځو تعلیم کول یو ډول شرم بلل کېږي او تل د هغوی د تعلیم د منع کولو لپاره پلمې لټول کېږي، تر څو هغوی د تعلیم له نعمته محرومې او لیرې وساتي، خو دا نه انګیري چې ښځه د ژوند او د کورنۍ د جوړولو بقا ده.

د خپلې خور او لور د راتلونکي ژوند په هکله دا فکر نه کوي چې دا به مور کېږي او د دې د تعلیم له کبله به یوه کورنۍ د تعلیم اوبه وڅښي؛ نه یوازې دا چې بې تعلیمه ښځې تر دې ډول محدودیت لاندې ژوند کوي، بلکې ګڼ شمېر باتعلیمه ښځینه هم تر یو ډول فکري او ټولنیز محدودیت لاندې ژوند کوي.

له هغه ډلې د هغو شاعرانو او لیکوالو مېرمنو یادونه کولای شو، چې دوی په خپلو اشعارو یا لیکنو کې د خپلو احساساتو د لېږد پر ځای د نارینه وو احساسات لېږدوي، د ډېری ښځو لیکنې یا شعرونه که ولولو داسې فکر به ونه کړو، چې دا د یوې ښځې شعري یا نثري لیکنه ده.

د دوی دا کړنه په ډاګه کوي، چې ښځه د نورو محدودیتونو تر څنګ پراخ فکري محدودیت هم لري. له تعلیمه پرته؛ هره انجلۍ د خپل راتلونکي ژوند په ټاکنه کې خپلواکه ده او پوره حق لري؛ خو په پښتني ټولنه کې دا خبره نشته سمه ده، چې په پښتني ټولنه کې د انجلۍ واک د هغه له ولي سره ده، خو د یوې مشورې حق خو لري چې باید ورسره وشي، څو د انجلۍ رضایت ښکاره شي، خو له بده مرغه چې دا حق هم ورڅخه اخیستل شوی.

ښځې زموږ په ټولنه کې یو بېوزله قشر دی؛ د خپل وجدان او کورنۍ عزت د ساتلو په موخه له ډېر څه تېرېږي او دا جرأت نه شي کولای چې له خپلو حقوقو دفاع وکړي. خو له دې موقع څخه د دوی پلرونه او میندې هم ناوړه ګټه اخلي او د دوی په ورکړل شویو حقونو سترګې پټوي، چې دا کار په لوی لاس د خپلو لوڼو د راتلونکي ژوند خرابول دي او د تاوتریخوالي او کورني جنجالونو یو عمده لامل همدا دی، چې د ښځو د راتلونکي ژوند پرېکړه نور کوي. که څوک غواړي ښه ژوند وکړي او راتلونکې یې له ستونزو سره مخ نه شي، باید ښځو ته خپل حق ورکړي.

ښځو ته د تعلیم او تحصیل زمینه برابره کړي، د هغه چا په سترګه ورته وکتل شي چې د ټولنې او کورنۍ په سمون کې رغنده رول لري او هېره دې نه وي، چې مېرنۍ ښځه به هېڅکله د خپل قام او کورنۍ عزت به نه تر پښو لاندې کوي؛ بلکې د خپل د عزت او دکورنۍ شمله به تل هسکه ساتي.

**لیکنه: بصیره «شجاع» ستانکزۍ**

# څنګه کولای شوچې نورو ته اخلاقي پیغام ورسوو؟

زموږ په ټولنه کې ډېري داسې خلک شته ، چې بدو ته بد وایي او خلکو ته هم بد ورپیژني، خو په خپله هم بد کوي او په دومره کچه بد او ناسم انسان وي، چې که له باطن څخه یې خبر شي، نوهک حیران به ورته پاتې شي.

نو دلته زموږ د هېواد په ځینو سیمو کې چې سواد عام نه دی او خلک له ډېرو ارزښتو او نزاکتونو خبر نه دي، زموږ ډېر اعمال کولای شي خلکو ته داسې پیغام ولېږدوي چې دا ښه دي او دا بد. د اخلاقي پیغام په رسولو کې یوازې محدود انسانان مسوول نه دي؛ بلکې هر انسان تر خپلې وسې پر دی او پکار ده، چې د ښو اخلاقو د عامولو لپاره هلې ځلې وکړي.

زموږ په ټولنه کې ډېر وخت هغه اخلاق خلک ښه پالي چې شخصي ګټې یې پکې نغښتې وي، خو داسې پکار نه ده، زموږ د لید زاویه باید دومره نه وي چې یوازې د ځانپالنې په فکر کې وواسو؛ بلکې که موږ ښه عمل کوو ، نو نن، سبا او راتلونکې یې باید هم په پام کې ونیسو.

هره ټولنه بېلابېلې اخلاقي ځانګړنې لري، ښايي هغه څه چې زموږ په ټولنه کې ورته بد اخلاق وایي، په نورو ټولنو کې بد نه وي او د بلې ټولنې د فرهنګ جز وي، د انسانانو ښه او بد د هغوی د شخصیت برخه ده، موږ هغه چاته چې نېک خویه او ښه کارونه کوي نېک عمله انسان وایو او هغه چې د دیني او ټولنیزو اصولو پر خلاف عمل کوي بد عمله بولو. یعنې اخلاق او وړتیاوې دي، چې انسانان یې یو له بله توپیر کړي. یوازې ښه خوی، ښې خبرې او د خبرو او الفاظو د نزاکت په مراعتولو چاته ښه او چاته بد نه شو ویلی، بلکې اعمال او نظریات د انسانانو د شخصیت برخې دي د پوهانو په باور چې انسان مقلد دی او له خپل ماحول او چاپېریال څخه رنګ اخلي او ځان د نورو په رنګ کوي.

زموږ په ټولنه کې چې سواد عام نه دی، نو د ډېرې بېغورۍ او ناسم ژوند له لاسه ډېري ماشومان سم نه دي روزل شوي او اوس چې ستر شوي دي هماغه د کوچني والي ناسمې روزنې، دوی او ټولنه له ستونزو سره مخ کړې ده. د اخلاقي پیغام په رسولو او عامولو کې د ټولنې هر وګړی او په ځانګړې ډول رسنۍ د اخلاقي پیغام په رسولو کې مسؤلیت لري او همدا راز د خپلو فعالیتونو په چوکاټ کې کولای شي، چې د اخلاقي پیغام په عامولو کې هم پوره ونډه ولري، نو دا به د رسنۍ هغه نه هېریدونکې فعالیت وي، چې د عام ذهنیت د بېدارۍ او سمونې لپاره یې تر ټولو ستر کار به یې کړی وي.

**لیکنه : عبدالاحمد(فیضي)**

# نگاهی به ساحه باستانی مس عینک

ساحهء باستانی مس عینک تقریباً در 38 کیلومتری جنوب کابل و در 18 کیلومتری شرق شاهراه کابل لوگر احراز موقعیت نموده است واینکه چرا این ساحه را مس عینک میگویند سوالی که تاهنوز جواب درست آن دریافت نگردیده است به گفته پروفیسور دوکتور زمریالی طرزی؛ عینک ازکلمه عربی (آهنک ) گرفته شده که بعداً به مرور زمان به آئینک وبلاخره به عینک مبدل گشته است، ساحه باستانی مس عینک ازنظر جغرافیایی در یکی از مناطق سردسیر ولایت لوگربه شکل کاسه ئی درمیان کوه ها قرار گرفته است.

ساحه باستانی مس عینک ولایت لوگر نخستین بار در سال 1342 کشف و در سال 1355 برای اولین بارهیات چون (جی.فوسمن و ام لیبر) از این ساحه مهم دیدن نمودند ، در سال1355 توسط دانشمند روسی وینوگرادوف، بختیل و گردن فرانسوی نیز ساحه سروی گردیده است.

اما در سال 1356 یک سروی مقدماتی توسط تیم باستانشناسان موسسه دافا ( تی.برتوکس، آر. بزنوال، اف.سیبیرون و وژ.لیزاک هاور) صورت گرفت که این ساحه را به دوره کوشانی تاریخ گذاری نمودند.هیات زمین شناسی روسی در سال 1349 موجودیت خرابه ها را در ساحه مس عینک گزارش داده بودند و از بعضی تونل های طویلی در قسمت شرقی کوه اصلی معدن مس عینک ذکر نمودند ، در سال 1361 توسط (و.بال) ساحه باستانی مس عینک در فهرست باستانشناسی افغانستان درج و بشکل مختصر از آن یاد آوری گردید. در سال های1385،1383، 1387 هیأت باستانشناسی افغان از ساحه دیدن نمود ،سروی های اساسی باستانشناسی درساحات باستانی مس عینک از سوی آنریاست شروع وحفریات آن برای بارنخست درسال 1387 آغاز شد.

آثار های زیادی از قبیل پارچه های سفالی، مسی ، چوبی، سنگی،



گلی، سکه طلایی و مسی، برنز، هیکل های بو دایی استوپه ها و معابد ) بدست آمده است.که آثار بدست آمده نسبت به عدم تعمیرموزیم دراین ولایت به موزیم ملی انتقال شده ومیشود ، آثارغیرمنقول(هیکل های بو دایی استوپه ها و معابد ) آن درهمان ساحات از سوی باستانشناسان توسط تخته های تحت پوشش قرار گرفته تا ازاثر ریزش برف وباران های موسمی تخریب نگردد.

قابل ذکر است که درساحه باستانی مس عینک حفریات تا فعلاً جریان دارد ، باید گفت که در ولایت لوگر علاوه از ساحه باستانی مس عینک ساحات باستانی دیگر نیز در اکثر مناطق مرکز وولسوالی های شش گانه جلب نظر می کند اما نسبت به مشکلات سروی اساسی وحفریات آن صورت نگرفته، امیدواریم که فردای روشن را دریابیم تا تمام ساحات باستانی این ولایت باستانی وتاریخی را حفریات نمایم وداشته های فرهنگی مانرا که تاریخ دیرینه کشور را برملا می سازد به نمایش گذاشته ومردم از داشته های فرهنگی شان آگاه شوند.

آخرین سروی در سال 1391 که هفت قریه اطراف ساحات باستانی مس عینک ولایت لوگررا احتوا مینمود مشتمل بر موازی 31000 جریب زمین دولتی را احتوا میکرد ازجمله به تعداد 43 نقطه ثبت ساحات باستانی مس عینک ولایت لوگر گردید.

**محمدی**

# دماشومانو په روزنه کې څو مهم او اړین ټکي:

**دویمه برخه :** **لیکنه : شیرمحمدامیني ستانکزی**

دماشومتوب دوره ډېره شوخه وي، چې په ټولو تیره شوېده، نو ماشومان دساتیریو په مهال شوخي هم کوي، نباید چې خپل ماشومان مو له ساتیریو څخه راوګرځوو ، یا ورته لښته په لاس کړو او ویې ډار کړو. نه پرېږدئ، چې هغوی شوخي هم وکړي، خو داسې شوخي نه چې په زیان یې وي. که چیرته له حده زیاته شوخي وکړي، باید ورته سپارښتنه وکړو ، چې له شوخۍ لاس واخلي داسې ورته ووایو ، چې بچې جانه ! ډېره شوخي کولو باندې د ډېرو کسانو پښې اویا لاسونه مات شوي، یا ژوندی مثال ورکړو ، چې پلانکي په کوچنیتوب کې ډېره شوخي کوله نوهغه ده، پښه یې ماته شوې، نو خدای مه کړه چې لاس یا پښه دې مات نه شي، بیا به ګوډ واوسې. نوبیا ماشومان خامخا په دې فکر کې کیږي، چې رښتیا هم زما پښه او یا لاس مات نشي او له ډېرې شوخۍ نه لاس اخلي.

ځیني کورنۍ شته چې کله ماشوم یې شوخي وکړي او یا ډېر وژاړي، نو د ځناورو حیواناتو نومونه ورته یادوي او په هغه یې ډاروي، نه باید دغه عمل ترسره شي، ځکه چې ماشوم بیا کم جرأته او ډارن رالویږي .

ماشوم ته ډېر نازو ورکول هم منفي زیانونه لري، دومره ماشومانو ته ناز ورکړل شي، څو موراو پلار یې پوه شي، چې له دې ډېر نازورکولو دماشوم په ژوند کې منفي تاثیرات لیدل کیږي، باید د ډېر نازورکولو ډډه وشي او ترکم اندازه چې لیدل کیږي، ماشومانو ته نازورکړو .

کومې جملې چې مور او پلار د خپلو ماشومانو سره د خبرو کولو لپاره ترې کار اخلي؛ د ماشومانو لپاره خورا ارزښتناکې دي او په نېغه د دوی په تربیت، اند ، راتلونکي شخصیت او روان اغېزمن کوي.

نو هڅه وکړئ، له ځینو ناسمو او ناراحت کوونکو جملو له ویلو په کلکه ډډه وکړئ د ماشومانو روزنه ساده کار نه؛ بلکې زیار او محنت غواړي. تاسو هر یو مکلف یاست، چې خپل ماشومان مو په بشپړ سالم تربیت او منونکي شخصیت ټولنې ته د راتلونکي نسل په حیث وړاندې کړئ. پکار ده، چې د خپلو ماشومانو په وړاندې پخپلو کړنو او خبرو کې له پوره احتیاط کار واخلئ.

کله چې دماشوم رسمي زده کړې، دښوونځي لړۍ پیل یې ده، کومې لارښوونې چې پورته ذکر شوې، ماشومان به په ښوونځي کې له ډېرو ستونزو خلاص وي، د زده کړو ترلاسه کولو کې به کومه ستونزه ونهویني او دښوونځي چاپېریال به ورته آرام او مناسب ځای ښکاره شي، چې بیا به ترلوړو زده کړو پورې هیڅ راز کومې ستونزې سره مخ نه وي او ټولنې ته به دیو سالم شخص په توګه وړاندې شي. نو دا خبرې له نن څخه په خپلو ماشومانو وارزوئ او له ماشومانو سره مرستې ته دوام ورکړئ، څو دماشوم راتلونکي روښانه او ځلانده ووسي.

**پای**

**بیایند! کردار وسیرت پیامبر (صلی الله علیه وسلم) ...**

طرف دیگر کسانیکه ضلالت از ازل نصیب آنها بود وبه سخنان گهربارپیامبرصلی الله علیه وسلم گوش ندادند وبرمسلمانان ظلم روا داشتند وبدون هیچ گناهی فقط به جرم اینکه آنها خوبی را بر بدی ارجحیت دادند از هیچ گونه ظلم یی دربرابر مسلمانان دریغ نه ورزیدند ، خداوند ج برای مقابل به آنها(کفار) به مسلمین امر جهاد داد و پیامبر صلی الله علیه وسلم درمدت بیست سه سال بعثت جهان را به طرف کامیابی سوق داد ، دین اسلام وکتاب جاویدان (قرآنکریم) را به ارمغان گذاشت، فتوحات زیادی را نصیب شد که از برکت آن امروز میلیون ها انسان پیروی راه حق اند . جان فشانی ها ، فداکاری ها ، اخلاق حسنه ، کردار ، رفتار ، سنت وبردباری پیامبر صلی الله علیه وسلم برای راه یابی وکامیابی دارین بشر، الگو ومکتب میباشد که درآن حقیقت خلقت نهفته است. لازمی است که تمام مسلمانان جهان خصوصاً مسلمانان کشور مان این روز را با تعمق درسیرت رسول الله صلی الله علیه وسلم به منظور اخوت، برادری، وحدت وصلح تجلیل نمایند وهمه مردم سنت آنرا منحیث قوانین اساسی خویش قراردهند .

**نویسنده: محمدزاهد(سلطانی)**